# زه چا پیدا کړی یم؟ او ولې؟
# هر څه د خالق د وجود څرګندونه کوي

من خلقني؟ ولماذا؟ كل شيء يدل على وجود الخالق؟ - **بشتو**

بيان الإسلام
Bayan AL-Islam

زه چا پیدا کړی یم؟ او ولې؟هر څه د خالق د وجود څرګندونه کوي

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

اسمانونه او ځمکه او په دوی کې لوی مخلوقات چې احاطه کېدلی نه شي، چا پیدا کړي دي؟

په اسمان او ځمکه کې دا دقیق او پراخ نظام چا جوړ کړی؟

انسان چا پیدا کړی او هغه ته د اورېدلو، لیدلو، عقل، پوهې لاسته راوړلو او په واقعیتونو د پوهېدلو وړتیا چا ورکړې ده؟

تاسو د خپل بدن او د ژوندیو موجوداتو په سیستمونو کې دا دقیق جوړښت څنګه تشریح کوئ؟ او دا چا لومړی پیدا کړی دی؟

دا لوی کاینات څنګه د کلونو په تېرېدو د خپلو قوانینو سره منظم چلیږي او برقرار پاتې دي؟

هغه نظامونه چا رامینځته کړي چې دا نړۍ کنټرولوي (ژوند او مرګ، د ژوندیو موجوداتو تناسل، شپه او ورځ، د موسمونو بدلون، او داسې نور)؟

آیا دې کائناتو خپل ځان پخپله پیدا کړي؟ یا له هېڅ څخه منځ ته راغلي؟ او یا په تصادفي ډول موندل شوي دي؟

ولې یو څوک د داسې شیانو په شتون باور لري چې لیدلی یې نه شي؟ لکه: (درک، عقل، روح، احساسات او مینه) آیا لامل یې دا نه دی چې هغه یې اغیزې ویني؟ نو څنګه انسان د دې لویو کائناتو د پیدا کوونکي له شتون څخه انکار کوي، حال دا چې هغه یې د پیدایښت، صنعت او رحمت اغیزې ویني؟!

هېڅ هوښیار به دا ونه مني چې ورته وویل شي: دا کور په خپله جوړ شوی، پرته لدې چې یو څوک یې جوړ کړي! یا ورته ووایي: دا کور هېڅ شي (نشت) رامنځته کړی! نو ځینې خلک څنګه په هغه چا باور کولی شي چې وایي: دا لوی کائنات پرته له خالق څخه پیدا شوي؟ یو عقلمند انسان څنګه منلی شي ورته وویل شي چې: د کائناتو دا دقیق نظم په تصادفي توګه رامینځته شوی دی؟

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٣٥ أَمۡ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ٣٦﴾

[الطور: 35-36]

آیا دوی بې له څه شي پیدا کړی شوي دي، یا هم دوی، پخپله پیدا کوونکي دي. آیا دوی آسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي؟ بلکې دوی یقین نه کوي.[52 : 32].

# الله سبحانه وتعالی

یوازې یو رب او خالق دی چې ډېر زیات او ستر نومونه او صفتونه لري هغه چې د هغه د کمال څرګندونه کوي: نو د هغه له نومونو څخه دا دي: الخالق (پیدا کوونکی)، الرحیم (رحم کوونکی) الرازق ( رزق ورکوونکی) الکریم ( سخي ذات) او "الله" د لوی څښتن سبحانه و تعالی تر ټولو مشهور نوم دی، او معنی یې دا ده چې: یوازې د عبادت وړ ذات چې هېڅ شریک نه لري.

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي([1]):

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤﴾

[الإخلاص: 1-4]

(اې نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی). * هم دا الله بې نیازه (بې حاجته) دی * نه یې (څوک) زېږولی او نه دی (له چا) زېږول شوی دی. * او د ده هېڅوک سیال (او) برابر نشته.[112: 1-4].

او الله تعالی فرمایلي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥﴾ [البقرة: 255]

الله هماغه دی چې له ده پرته بل معبود نشته تل ترتله ژوندی سمبالونکی دی، نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي (ټول) د هغه دي، دا به څوک وي چې د هغه له اجازې پرته د چا سپارښتنه ورته وکړي؟ په هر هغه څه پوهیږي چې د دوی مخې یا یې شاته دي، او دوی د هغه له معلوماتو هېڅ شی نه شي راګیرولای مګر هغه چې د ده خوښه وي، کرسۍ یې له اسمانو او ځمکې پراخه ده، او د دې دواړو (ځمکی او اسمان) ساتنه یې نه ستومانه کوي او هغه لوی اوچت ذات دی.[2 : 255].

## د سپېڅلي رب صفتونه

څښتن تعالی هغه ذات دی چې ځمکه یې پیدا کړه او هغه یې اېل کړه، د خپلو مخلوقاتو لپاره یې مناسبه وګرځوله او دی هغه ذات دی چې آسمانونه او لوی مخلوقات یې په دوی کې پیدا کړل او د لمر، سپوږمۍ، شپې او ورځې لپاره یې دا دقیق کنټرول رامنځته کړی چې پر عظمت یې دلالت کوي.

رب تعالی هغه ذات دی چې هوا یې موږ ته مسخره کړې چې له هغې پرته ژوند نه شو درلودلای، او هغه ذات دی چې پر موږ بارانونه وروي او موږ ته یې سمندرونه او سیندونه تابع کړي او دی همغه ذات دی چې موږ ته یې هغه مهال روزي راکوله کله چې موږ د مېندو په رحمونو کې کوچنیان وو او هېڅ ځواک مو نه درلود، او دی همغه ذات دی چې زموږ په رګونو کې یې ویني جریان ورکړی، او زموږ زړونو ته یې په مستمر ډول له زیږون څخه تر مرګه حرکت ورکړی دی.

الله تعالی فرمایلي:

﴿وَٱللَّهُ أَخۡرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ٧٨﴾ [النحل: 78]

(او الله تاسو د خپلو میندو له خیټو نه راووېستئ، په داسې حال کې چې پر هېڅ شي نه پوهېدلئ او تاسو ته یې غوږونه او سترګې او زړونه در کړل، د دې لپاره چې شکر وباسئ)(16: 78)

## هغه رب چې عبادت يې کيږي بايد د کمال په صفتونو سره ياد شي.

زمونږ خالق مونږ ته عقلونه راکړي چې د هغه عظمت درک کوي، او په مونږ کې يې داسې يو طبيعي فطرت زيږولی چې د هغه پر کمال دلالت کوي، او دا چې شونې نده هغه ذات د نيمګړتياوو په صفتونو سره ياد شي.

عبادت بايد خامخا او يوازې د الله جل جلاله وشي، ځکه همدی بشپړ ذات دی چې د عبادت مستحق دی او هر هغه څه چې له هغه پرته يې عبادت کيږي باطل او نيمګړی دی او مرګ او فنا کېدل پرې راځي.

انسان، بت، ونه او يا حيوان هيڅکله معبود کېدلی نه شي!

د عقلمند لپاره مناسبه نه ده چې له کامل ذات پرته د بل چا عبادت وکړي، نو څنګه کولای شي له خپل ځان څخه د ټيټ مخلوق عبادت وکړي؟

شونې نه ده چې رب دې د يوې ميرمنې په خېټه کې د ماشوم په څېر وي او داسې وزېږول شي لکه څنګه چې ماشومان زېږېږي!

څښتن هغه ذات دی چې مخلوقات يې پيدا کړي او مخلوقات يې په قبضه کې دي او د هغه تر واک لاندې دي، ناشونې ده چې انسانان ورته زيان ورسوي؛ او ناشونې ده چې هغه په دار وځړوي، شکنجه يې کړي او سپکاوی ورته وکړي!

ناشونې ده چې رب دې ومري!

څښتن هغه ذات دی چې نه هېروي، نه خوب کوي او نه خوري، هغه لوی دی، ناشونې ده چې ښځه يا بچې ولري؛ خالق د عظمت صفتونه لري او هيڅکله نه اړمن کيږي او نه په نيمګړتيا سره ياديږي، او ټول هغه نصوص چې نسبت يې پيغمبرانو ته کيږي او د خالق د عظمت سره په ټکر کې وي، هغه تحريف شوي نصوص دي او صحيح وحې نه ده کومه چې موسی، عيسی، او نورو پيغمبرانو عليهم السلام راوړې ده.

الله تعالی فرمايلي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٞ فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخۡلُقُواْ ذُبَابٗا وَلَوِ ٱجۡتَمَعُواْ لَهُۥۖ وَإِن يَسۡلُبۡهُمُ ٱلذُّبَابُ شَيۡـٔٗا لَّا يَسۡتَنقِذُوهُ مِنۡهُۚ ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ وَٱلۡمَطۡلُوبُ ٧٣ مَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٧٤﴾ [الحج: 73-74]

اې خلکو! يو مثال راوړل شوی نو غوږ ورته کيږدی، تاسو چې الله نه پرته څه رابلئ، که ټول ورته را يو ځای هم شي هېڅکله به يو مچ هم پيدا نه کړی شي او (دا لا څه) که يو مچ څه شی ترې وتښتوي، هغه هم نه شي ترې خلاصولی، هم (مرسته) غوښتونکی کمزوری دی او هم غوښتل شوی. * دوی د الله تعالی قدر ونه کړ، څنګه چې د هغه د قدر کولو حق دی، بېشکه الله خامخا ډېر زورور، ښه غالب دی.[22: 73, 74].

## آيا دا معقوله ده چې خالق دې موږ له وحی پرته پرېږدي؟

آيا دا عقل مني چې الله دا ټول مخلوقات بې هدفه پيدا کړي، آيا هغه يې بې مقصده پيدا کړي دي، حال دا چې هغه په هر څه پوه او حکيم دی؟

آيا دا عقل مني چې هغه ذات چې موږ يې په دومره دقت او مهارت سره پيدا کړي يو او د ځمکې او اسمانونو هر څه يې زموږ تابع کړي، چې موږ به يې له کوم هدف پرته پيدا کړي يو، او يا به مو د خورا مهمو پوښتنو له ځوابولو پرته پرېږدي چې زموږ فکر يې مشغول کړی دی، لکه: ولې موږ دلته يو؟ او له مرګ نه وروسته څه دي؟ او زموږ د پيدايښت موخه څه ده؟

بلکې الله پېغمبران رالېږلي چې موږ د خپل شتون په هدف پوه شو او دا چې هغه له موږ نه څه غواړي!

الله جل جلاله د دې لپاره پېغمبران رالېږلي چې موږ ته خبر راکړي چې يوازې هغه د عبادت وړ دی، او چې پوه شو څنګه يې عبادت وکړو، او موږ ته د هغه د اوامرو او منهياتو په اړه خبر راکړي او د دې لپاره چې موږ ته نيک ارزښتونه را زده کړي چې که موږ يې مراعات کړو، نو پاک او له نيکيو او برکتونو ډک ژوند به ولرو.

او يقينا چې الله ډېر پېغمبران رالېږلي، لکه (نوح، ابراهيم، موسی او عيسی) او الله تعالی دغو پېغمبرانو ته داسې نښې او معجزې ورکړې چې د دوی د رېښتينولۍ څرګندونه کوي او دا چې دوی د خالق له خوا رالېږل شوي دي.

او د پېغمبرانو وروستنی پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم دی - او الله جل جلاله پرې قرآن کريم نازل کړی دی.

او رسولانو موږ ته په واضح ډول خبر راکړی چې دا ژوند يو امتحان دی او دا چې ريښتينی ژوند به له مرګ نه وروسته وي.

او دا چې د هغو مؤمنانو لپاره جنت دی چې يوازې د الله جل جلاله عبادت يې کړی وي؛ هغه ذات چې شريک نه لري او په ټولو رسولانو يې ايمان راوړی وي او پدې چې هلته يو اور دی چې الله د هغو کافرانو لپاره چمتو کړی چې د الله سره د نورو معبودانو عبادت هم کوي او يا يې د الله له کوم رسول څخه انکار کړی وي او پرې کافر شوی وي.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأۡتِيَنَّكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ يَقُصُّونَ عَلَيۡكُمۡ ءَايَٰتِي فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٣٥ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٣٦﴾ [الأعراف: 35-36]

اې د ادم اولاده! كه تاسو ته له تاسو نه واقعًا رسولان راشي، چې تاسو ته زما آيتونه بيانوي، نو هغه څوک چې پرهېزګاره شو او (د ځان) اصلاح يې وکړه، نو په دوی باندې به نه څه وېره وي او نه به دوی غمجن کېږي. * او هغوی چې زموږ آيتونه يې دروغ وبلل او تکبر يې ترې وکړ، نو هغوی دوزخيان دي، تل ترتله پکې اوسېدونکي دي.[7 : 35,36].

او الله پاک فرمايلي:

﴿أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ١١٥﴾ [المؤمنون: 115]

آيا نو تاسو ګمان کوئ چې بې شکه موږ تاسو عبث پيدا کړي ياست او دا چې بې شکه تاسو به موږ ته بېرته نه راګرځئ.[23: 115].

# قرآن کریم

قرآن کریم د الله تعالی کلام دی چې په وروستي پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم یې نازل کړی، او دا ترټولو ستره معجزه ده چې د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت حقیقت څرګندوي. په خپلو احکامو کې حق او په خپلو معلوماتو کې ریښتینی دی، او الله تعالی یې منکران د یو سورت په څېر د سورت په راوړلو سره ننګول، مګر دوی د هغه حیرانوونکي انداز او الفاظو عاجز کړل، په دې کې ډېر عقلي شواهد او ساینسي حقایق شامل دي چې دا په ډاګه کوي چې دا کتاب د انسانانو لخوا نه دی جوړ شوی، بلکې دا د انسانیت د څښتن پاک کلام دی.

## ولې دېر شمېر رسولان؟

الله جل جلاله له اوله پيغمبران رالېږلي چې خلک د خپل رب لور ته راوبلي او د هغه اوامر او نواهي هغوی ته ورسوي، او د هغوی ټولو بلنه دا وه چې: يوازې د الله جل جلاله عبادت وکړئ او هر کله چې به يو قوم هغه څه پرېښودل پيل کړل چې پيغمبر به يې ورته راوړي وو او يا به يې د هغې د بدنامولو هڅه وکړه، لکه د الله تعالی په يووالي امر، نو الله تعالی به د دې لارې د سمونتيا لپاره بل رسول راولېږه چې خلک بېرته د توحيد او د الله تعالی اطاعت ته راوګرځوي، تر دې چې الله تعالی د محمد صلی الله عليه وسلم په رالېږلو سره د رسولانو لړۍ پای ته ورسوله، چا چې د قيامت تر ورځې پورې ټولو انسانانو ته عمومي او ابدي شريعت راوړی، داسې قانون چې د مخکنيو قوانينو بشپړونکی او منسوخوونکی دی، او لوی الله د قيامت تر ورځې پورې د دې شريعت او رسالت د دوام تضمين کړی دی.

له همدې امله، موږ مسلمانان په ټولو پخوانيو پيغمبرانو او کتابونو. ايمان لرو - لکه څنګه چې الله امر کړی -

الله تعالی فرمايلي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَـٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥﴾ [البقرة: 285]

رسول پر هغه څه ايمان راوړی چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ايمان راوړی دی په الله او د هغه پر ملايکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو (او وايي چې) موږ د هغه (الله) په رسولانو کې د هيچا په مينځ کې فرق نه کوو او وايي چې: موږ واورېدل او خبره مو ومنله (موږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو) ای زموږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی[2: 285].

## يو ځوک تر هغه وخته مؤمن کېدلی نه شي تر څو یې په ټولو پیغمبرانو ایمان نه وي راوړی.

الله هغه ذات دی چې رسولان یې رالیږلي او چا چې له دوی څخه د یوه په پیغمبرۍ کفر وکړ نو په حقیقت کې یې په ټولو کفر کړی دی، له دې به لویه ګناه نه وي چې یو ځوک د الله تعالی له وحیې انکار وکړي، نو جنت ته د ننوتلو لپاره په ټولو پیغمبرانو ایمان راوړل ضروري دي.

په دې زمانه کې پر هر چا فرض دي چې د الله تعالی په ټولو پیغمبرانو ایمان راوړي، او دا کار یوازې د دوی په وروستي او اخري پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم په ایمان راوړلو او پیروي سره کېږي.

الله تعالی په قران کریم کې فرمایلي دي، ځوک چې د الله په کوم پیغمبر له ایمان راوړلو څخه انکار کوي نو هغه په الله تعالی کافر او د هغه د وحی دروغ ګڼونکی دی:

لاندې آیت ولوله:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ١٥٠ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ حَقّٗاۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا ١٥١﴾ [النساء: 150-151]

بېشکه هغه کسان چې په الله او د هغه په رسولانو کافران کېږي او دوی غواړي چې د الله او د هغه د رسولانو په مینځ کې بېلتون وکړي او دوی وایي چې مونږ پر ځینو (رسولانو) ایمان راوړو او په ځینو کافر کېږو او دوی غواړي چې د دې (اسلام او کفر) په مېنځ کې (بله) لار ونیسي * دغه کسان په رښتیا کافران دي او مونږ د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی دی[4: 150,151].

# اسلام څه شی دی؟

اسلام؛ د الله تعالی یووالي ته غاړه ایښودل دي، په پیروۍ سره هغه ته تسلیمېدل او په خوښۍ او منلو سره د هغه د شریعت پیروي کول دي.

او الله تعالی رسولان له یو پیغام سره رالیږلي چې هغه: د یو الله عبادت ته بلنه ده؛ هغه ذات چې شریک نه لري.

او اسلام د ټولو پیغمبرانو دین دی، د دوی بلنه یو شان او شریعتونه یې بېلابېل دي. نن ورځ مسلمانان یوازیني خلک دي چې د صحیح دین پیروي کوي، هغه دین چې د ټولو انبیاوو لخوا راوړل شوی او په دې وخت کې د اسلام پیغام حق دی، نو هغه رب چې ابراهیم، موسی او عیسی علیهم السلام یې رالیږلي؛ همغه رب دی چې محمد صلی الله علیه وسلم یې رالیږلی، او اسلامي شریعت د نورو مخکنیو شریعتونو منسوخوونکی دی.

ټول هغه دینونه چې خلک پرې نن سبا عبادت کوي - له اسلام پرته - هغه دینونه دي چې د انسانانو له خوا رامینځته شوي، یا دا چې الهی ادیان وو خو انسانانو پکې لاسوهنه وکړه نو د خرافاتو، میراثي افسانو او بشري اجتهاداتو ګډوله ترې جوړه شوه. خو د مسلمانانو عقیده یوه روښانه عقیده ده چې بدلون نه مومي، او قرآن کریم ته وګوره چې په ټولو اسلامي هیوادونو کې همدا یو کتاب دی.

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي:

﴿قُلۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ٨٤ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ٨٥﴾ [آل عمران: 84-85]

ته ووایه: موږ ایمان راوړی پر الله او پر هغه (کتاب) چې پر موږ نازل کړی شوی دی او پر هغه څه چې په ابراهیم او اسماعیل او اسحاق او یعقوب او (د هغه) په اولادې نازل کړی شوي دي او پر هغه څه چې موسٰی او عیسٰی او (نورو) نبیانو ته د خپل رب له جانبه ورکړل شوي دي، موږ په دوی کې د هېڅ یو په مینځ کې فرق نه کوو او موږ خاص د هغه (الله) د حکم منونکي یو. * (او څوک چې له اسلام پرته (بل) دین ولټوي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانیانو څخه دی)[3: 84,85].

## مسلمانان د عیسی علیه السلام په اړه څه عقیده لري؟

آیا پوهیږې چې مسلمانان باید د الله تعالی پر پیغمبر عیسی علیه السلام ایمان ولري، له هغه سره مینه ولري، درناوی یې وکړي او په هغه رسالت یې ایمان ولري چې هغه یوازې د یو الله عبادت ته بلنه ده؛ هغه ذات چې شریک نه لري! او مسلمانان په دې باور دي چې حضرت عیسی او حضرت محمد (صلی الله علیهما وسلم) دواړه پیغمبران وو او دا چې دوی د دې لپاره رالیږل شوي وو چې خلکو ته د الله او د جنت لار وښیي.

او موږ باور لرو چې عیسی علیه السلام د الله تعالی له خوا له لویو پیغمبرانو څخه یو رالیږل شوی پیغمبر دی او موږ باور لرو چې هغه په معجزانه توګه زیږېدلی و، او الله تعالی موږ ته په قرآن کې فرمایلي چې عیسی علیه السلام یې پرته له پلار څخه پیدا کړی، لکه څنګه یې چې آدم له مور او پلار پرته پیدا کړی، نو الله خو په هر څه قادر دی.

او موږ باور لرو چې عیسی معبود نه دی او نه د الله تعالی زوی دی، او نه په دار شوی دی، بلکې هغه ژوندی دی، الله تعالی خپل طرف ته پورته کړی چې په وروستي وخت کې د عادلانه قضاوت کوونکي واکمن په توګه راښکته شي، او دی به له مسلمانانو سره وي، څکه چې همدوی په توحید ایمان لري؛ هغه توحید چې عیسی او ټولو پیغمبرانو علیهم السلام راوړی دی.

الله پاک موږ ته په قرآن کریم کې خبر راکړی چې د عیسی پیغام (رسالت) د عیسویانو له خوا تحریف شوی او دا چې د ګمراهانو یوې ډلې انجیل تحریف کړی او بدلون یې پکې راوستی او داسې متنونه یې ورزیات کړي چې عیسی نه دي ویلي، د دې خبرې ثبوت د انجیل بېلابېلې نسخې او تر منځه یې د ټکر شتون دی.

الله تعالی موږ ته خبر راکړی چې عیسی د خپل رب عبادت کاوه او له هېچا یې نه و غوښتي چې د هغه عبادت وکړي، بلکې هغه خپل قوم ته امر کړی و چې د هغه د خالق عبادت وکړي، خو شیطان عیسویان د عیسی عبادت ته اړ کړل، او الله تعالی موږ ته په قرآن کریم کې فرمایلي چې هغه چاته به ښښنه ونه کړي چې له الله پرته د بل چا عبادت کوي، او دا چې عیسی علیه السلام به د قیامت په ورځ له هغه چا څخه بېزاره شي چې د هغه عبادت یې کاوه او ورته به وایي چې: ما خو تاسو ته امر کړی و چې د خالق عبادت

وکړئ او ما هېڅکله له تاسو نه و غوښتي چې زما عبادت وکړئ. د دې خبرې ثبوت د الله تعالی دا قول دی:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ١٧١﴾ [النساء: 171]

اې اهلِ کتابو! تاسو په خپل دین کې غُلُوّ (زیاتی) مه کوئ او الله ته یواځې د حقې خبرې نسبت کوئ، یقینًا همدا خبره ده چې د مریمې زوی مسیح عیسیٰ خو بس د الله رسول او د هغه کلمه ده، چې هغه یې مریم ته غورځولې وه او د هغه (الله) له جانبه روح دی، نو تاسو پر الله او د هغه پر رسولانو ایمان راوړئ او تاسو مه وایئ چې (معبودان) درې دي، تاسو (له دې نه) منع شئ، تاسو لپاره به (دا) دېره ښه وي، یقینًا همدا خبره ده چې الله یو معبود دی زه د هغه پاکي بیانوم له دې نه چې د هغه لپاره دې اولاد وي، خاص د هغه لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او الله ښه کافي دی د کار ساز (په توکه).[4 : 171].

الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ءَأَنتَ قُلۡتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيۡنِ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أَقُولَ مَا لَيۡسَ لِي بِحَقٍّۚ إِن كُنتُ قُلۡتُهُۥ فَقَدۡ عَلِمۡتَهُۥۚ تَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِي وَلَآ أَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِكَۚ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ١١٦﴾ [المائدة: 116]

او کله چې الله وفرمایل: اې عیسیٰ د مریمې زویه! ایا تا خلقو ته ویلي وو چې له الله نه غیر ما او زما مور دوه معبودان ونیسئ؟ عیسیٰ وویل زه ستا پاکي بیانوم، زما لپاره جایز نه دي چې زه هغه خبره وکړم چې د هغې حق ما ته نشته، که چېرې ما دا خبره کړې وَی، نو یقینًا تا ته به معلومه وَی، ته عالم یې پر هر هغه څه چې زما په نفس کې دي او زه نه پوهېږم پر هغه څه چې ستا په نفس کې دي، بېشکه هم ته پر غیبو ښه عالم یې.(5 :116)

ځوک چې غواړي په آخرت کې نجات ومومي باید اسلام قبول کړي او د محمد صلی الله علیه وسلم پیروي وکړي.

له هغو حقايقو چې پیغمبرانو او رسولانو پرې اتفاق کړی دا دی چې یوازې هغه مسلمانان به په آخر کې نجات مومي چې په الله تعالی ایمان لري او د هغه سره په عبادت کې هېڅوک نه شریکوي او په ټولو پیغمبرانو او رسولانو ایمان لري. هغه څوک چې د موسی علیه السلام په زمانه کې وو او په هغه یې ایمان راوړی و او د هغه په لاربښوونو یې عمل کړی و، نو هغوی ښه مسلمانان او صالح مؤمنان دي، خو وروسته له دې چې الله تعالی عیسی علیه السلام راولیږه، نو د موسی علیه السلام پیروان باید په عیسی علیه السلام ایمان راوړي او هغه څوک چې په عیسی علیه السلام ایمان ولري ښه مسلمانان دي، او څوک چې په عیسی علیه السلام له ایمان راوړلو انکار وکړي او ووایي چې زه د موسی علیه السلام په دین یم، هغه مومن ندی؛ ځکه چې هغه د الله تعالی له خوا له رالیږل شوي پیغمبر څخه انکار کړی، همدا رنګه وروسته له دې چې الله تعالی وروستی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم راولیږه، پر ټولو واجب شوه چې ایمان پرې راوړي، نو هغه رب چې موسی او عیسی یې رالیږلي همغه رب دی چې وروستی پېغمبر محمد صلی الله علیه وسلم یې رالیږلی، نو چا چې د محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت کفر وکړ او ویې ویل چې "زه به د موسی او یا عیسی پیرو پاتې شم، نو دا مؤمن نه دی.

د یو چا لپاره دا بسنه نه کوي چې ووایي هغه د مسلمانانو درناوی کوي او نه یې په آخرت کې د خلاصون لپاره بسنه کوي چې خیرات ورکړي او د غریبانو سره مرسته وکړي، بلکې باید په الله تعالی، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ ایمان ولري؛ تر څو الله تعالی ترې دا هر څه قبول کړي!، له شرک او کفر څخه بله لویه ګناه نشته او لدې چې د الله تعالی هغه وحی رد کړی شي چې هغه نازله کړې ده او یا یې د وروستي پیغمبر له پېغمبرۍ انکار وشي. نو هغه یهودو او نصارو چې د محمد صلی الله علیه وسلم د رسالت په اړه اورېدلي وي او په هغه یې له ایمان راوړلو انکار کړی او په اسلام کې له داخلېدو یې انکار کړی، د دوزخ په اور کې به د تل لپاره پاتې شي لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ٦﴾ [البينة: 6]

(بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، چې اهل کتاب او مشرکان دي، (دوی به) د دوزخ په اور کې تل ترتله وي، هم دغه کسان تر ټولو بد خلق دي)[98: 6].

له هغه وخته چې بشريت ته د الله تعالى وروستی پيغام نازل شوی، نو هر انسان چې د اسلام په اړه اوري او د وروستي پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم پيغام اوري، بايد په هغه ايمان راوړي، د هغه د شريعت پيروي وکړي او په اوامرو او نواهيو کې د هغه اطاعت وکړي، او څوک چې دا وروستی پيغام واوري او رد يې کړي، الله تعالى به له هغه څخه هېڅ شی ونه مني او په آخرت کې به عذاب ورکړي، د دې خبرې ثبوت د الله تعالى دا وينا ده:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ٨٥﴾ [آل عمران: 85]

او څوک چې له اسلام نه غير (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانيانو څخه دی.[3 : 85].

او الله تعالى فرمايلي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ٦٤﴾ [آل عمران: 64]

ورته وايه اې اهل کتابو هغه خبرې ته راشئ چې زموږ او ستاسو ترمنځ يو برابر دی، دا چې د الله نه پرته به بل څه نه لمانځو، نه به څه شی ورسره شريکوو او نه به څوک له الله نه پرته يو بل د معبودانو په توګه نيسي، نو که وګرځېدل بيا ورته ووايئ تاسو شاهدان اوسئ چې موږ مسلمانان يو.(3: 64).

## زه د مسلمانېدلو لپاره څه ته اړتیا لرم؟

اسلام کې د ننوتلو لپاره په دې شپږو ارکانو ایمان راوړل واجب دي:

په الله جل جلاله ایمان او دا چې هغه خالق، روزي ورکوونکی، چار سمبالی او مالک دی، د هغه په شان هېڅ شی نشته، هغه نه مېرمن لري او نه زوی، او هغه یوازې د عبادت مستحق دی.

په پرښتو ایمان او دا چې دوی د الله تعالی بندګان دي، له نور څخه یې پیدا کړي او دنده یې ورسپارلې چې پر پېغمبرانو علیهم السلام یې وحی نازلوي.

په ټولو هغو کتابونو ایمان راوړل چې الله تعالی په خپلو پیغمبرانو علیهم السلام نازل کړي دي (لکه: تورات او انجیل) او وروستی کتاب قرآن کریم.

په ټولو پېغمبرانو -علیهم السلام- ایمان راوړل لکه: نوح، ابراهیم، موسی، عیسی او د دوی وروستی محمد صلی الله علیه وسلم، او دا چې دوی ټول له انسانانو څخه وو، د وحی په واسطه یې د دوی ملاتړ کړی او هغه نښې او معجزې یې ورکړې چې د دوی د ریښتینولۍ څرګندونه کوي.

د آخرت په ورځ ایمان راوړل چې الله جل جلاله به مخکیني او وروستني راژوندي کوي او الله تعالی به د خپل مخلوق په مینځ کې قضاوت کوي، مومنان به جنت او کافران به دوزخ ته داخلوي.

په تقدیر باور او دا چې الله په هر څه پوهیږي، څه چې پخوا وو او څه به چې په راتلونکي کې وي، او دا هر څه یې لیکلي دي او د دې اراده یې هم کړې ده او هر څه یې پیدا کړي هم دي.

# اسلام د نېکمرغۍ لار ده

اسلام د ټولو پيغمبرانو دين دی او د عربو پورې ځانګړی دين نه دی.

اسلام په دې دنيا کې د ريښتينې خوښۍ او په آخرت کې د ابدي نعمتونو لاره ده.

اسلام يوازينی دين دی چې د روح او بدن اړتياوې پوره کولی شي او د انسانانو ټولې ستونزې حلولی شي.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿قَالَ ٱهۡبِطَا مِنۡهَا جَمِيعَۢاۖ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشۡقَىٰ ١٢٣ وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤﴾ [طه: 123-124]

(الله) ووېل: تاسو دواړه له دې (جنت) نه کوز شئ ټول، ستاسو ځينې به د ځينو نورو دښمنان وي، نو که تاسو ته زما له جانبه هدايت راغی، نو چا چې زما د هدايت پيروي وکړه، نو دی به نه ګمراه کيږي او نه به بدبخته کيږي * او هغه څوک چې زما له ذِکر (قرآن) نه مخ وګرځوي، نو بېشکه د ده لپاره ډېر تنګ ګذران (او ژوند) دی او دی به موږ د قيامت په ورځ ړوند راپورته کوو.[20: 123, 124].

## اسلام ته په داخلېدو کې څه ګټه کوم؟

اسلام ته داخلېدل سترې ګټې لري، چې ځینې یې دا دي:

- په دنیا کې بریا او عزت، ځکه چې انسان د الله بنده وي، که نه نو د خواهشاتو، شیطان او شهوتونو بنده به و.

- په آخرت کې تر ټولو لویه بریا د دوزخ له عذابه ژغورل، جنت ته داخلېدل او په جنت کې د الله تعالی رضا او د ابدي ژوند ګټل دي.

هغه څوک چې الله تعالی یې جنت ته داخل کړي، د مرګ یا هر ډول ناروغۍ، درد، غم، یا بوډاتوب پرته به په ابدي نعمتونو کې ژوند وکړي، او دوی به هر څه چې دوی یې غواړي ترلاسه کړي.

په جنت کې داسې نعمتونه شته چې نه د چا سترګو لیدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د چا په فکر کې ګرځېدلي.

د دې خبرې ثبوت د الله تعالی دا وینا ده چې فرمایي:

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٩٧﴾ [النحل: 97]

چا چې نېک عمل وکړ، سړی وي، یا که ښځه، په داسې حال کې چې مومن وي، نو خامخا هرومرو به مونږ هغه ته ژوند ورکړو، ډېر پاکیزه ژوند او خامخا هرومرو به مونږ هغوی ته د هغوی د اجر جزا ورکړو د هغو تر ټولو ښو عملونو په بدل کې چې دوی به کول.[16 : ٩٧].

## که اسلام را نه وړم نو څه به له لاسه ورکړم؟

انسان به تر ټولو ستر علم او پوهه له لاسه ورکړي، چې هغه د الله تعالی پېژندل او د الله تعالی په اړه پوهه ده، او هغه به په الله تعالی باور له لاسه ورکړي، هغه څه چې انسان ته په دنيا کې امنيت او آرامي او په آخرت کې ابدي نعمت ور په برخه کوي.

انسان به تر ټولو لوی کتاب ته لاسرسی له لاسه ورکړي چې الله تعالی خلکو ته نازل کړی او په دې لوی کتاب به ايمان له لاسه ورکړي.

هغه به په سترو پيغمبرانو ايمان له لاسه ورکړي، همدا رنګه به د قيامت په ورځ په جنت کې د دوی ملګرتيا له لاسه ورکړي، او د دوزخ په اور کې به د شيطانانو، مجرمانو او ظالمانو سره مل وي، چې ډېر بد کور او بد ګاوند دی.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... قُلۡ إِنَّ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَأَهۡلِيهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَا ذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡخُسۡرَانُ ٱلۡمُبِينُ ١٥ لَهُم مِّن فَوۡقِهِمۡ ظُلَلٞ مِّنَ ٱلنَّارِ وَمِن تَحۡتِهِمۡ ظُلَلٞۚ ذَٰلِكَ يُخَوِّفُ ٱللَّهُ بِهِۦ عِبَادَهُۥۚ يَٰعِبَادِ فَٱتَّقُونِ ١٦﴾ [الزمر: 15-16]

ووايه بېشکه (حقيقي) زيانمن هغه خلک دي چې د قيامت په ورځ يې ځانونه او خپلې کورنۍ په تاوان کې اچولې دي، خبر اوسئ چې همدغه ښکاره تاوان دی. * د هغوی لپاره به لاندې باندې د اور (ټوټې) وريځې (لکه چترۍ راتاو) وي، دا هغه عذاب دی چې الله خپل بندګان پرې ډاروي، اې زما بندګانو له ما نه ووېرېږئ.[39: 15, 16].

# پرېکړه مه ځنډوه!

دنيا د ابديت کور نه دی ...

ژر دی چې ټول ښايست به يې له منځه لاړ شي او ټول شهوتونه به ختم شي...

او هغه ورځ به راشي چې د کړنو حسابي به درسره وشي، چې هغه د قيامت ورځ ده، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ٤٩﴾ [الكهف: 49]

(او کتاب به کېښودل شي، نو ته به مجرمان وينې چې له هغه څه نه به وېرېدونکي وي چې په ده کې دي او وايي به: اې زموږ هلاکته! د دې کتاب (عملنامې) څه حال دی چې نه وړه (ګناه) پرېږدي او نه غټه مګر هغه (هره يوه) يې حساب کړې ده او دوی به خپل ترسره کړي عملونه حاضر ومومي، او ستا رب پر هېچا ظلم نه کوي).[18 : 49].

او يقينا چې الله تعالی په ډاګه کړې ده چې څوک اسلام نه راوړي نو هغه به د تل لپاره د دوزخ په اور کې وي.

نو دا لږ تاوان نه، بلکې لوی تاوان دی:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥﴾ [آل عمران: 85]

(او څوک چې له اسلام نه پرته (بل) دين ولټوي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانيانو څخه دی)[3 : 85].

نو اسلام هغه دين دی چې له هغه پرته الله نور دينونه نه مني.

نو الله موږ پيدا کړي يو او هغه ته ورګرځو او دا دنيا زموږ لپاره يوه ازموينه ده.

ډاډه اوسه چې: دا ژوند د خوب په څېر لنډ دی ... او هېڅوک نه پوهېږي چې کله به مري!

نو د قيامت په ورځ به خپل خالق ته څه ځواب وايي چې پوښتنه درځخه وکړي چې: ولې دې د حق پيروي نه ده کړې؟ ولې دې د وروستي پيغمبر پيروي نه ده کړې؟

نو ته به خپل پروردګار ته د قيامت په ورځ څه ځواب وايې، حال دا چې هغه په اسلام کې د کفر له عواقبو خبرداری درکړی و او ويلي يې و چې د کفارو برخليک په دوزخ کې ابدي هلاکت دی؟

او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٣٩﴾

[البقرة: 39]

او هغه خلق چې کفر يې کړی دی او زمونږ آيتونه يې دروغ ګڼلي دي، همدغه کسان د (دوزخ د) اور والا دي، دوی به په هغه کې همېشه وي.[2: 39].

## د هغو کسانو لپاره هېڅ عذر نشته چې حق یې پرېښی او د پلرونو او نیکونو تقلید کوي.

الله تعالی موږ ته خبر راکړی چې ډېری خلک چې په اسلام کې له داخلېدو څخه انکار کوي د هغه چاپیریال له وېرې یې کوي په کوم کې چې دوی ژوند کوي.

او ډېری نور له اسلام څخه ځکه انکار کوي چې دوی نه غواړي خپلې هغه عقیدې بدلې کړي چې له پلرونو څخه ورته په میراث پاتې دي او دوی یې معتاد شوي دي او ډېری نور یې تعصب او له هغه باطل غیرت چې ورته پاتې دی له دې منعه کوي چې اسلام ومني.

او دا ټول خلک د دې لپاره هېڅ عذر نلري، دوی به د الله جل جلاله په وړاندې بې دلیله ودرېږي.

دا د ملحد لپاره هېڅ عذر نه دی چې ووایی، "زه به ملحد پاتې شم ځکه چې زه په یوه ملحده کورنۍ کې زیږېدلی یم!" بلکې هغه باید له هغه عقل څخه کار واخلي چې الله تعالی ورکړی، د ځمکې او اسمانونو په عظمت کې باید فکر وکړي او په خپل هغه عقل سره فکر وکړي چې خالق یې ورکړی ترڅو پوه شي چې دا کائنات یو خالق لري. همدا رنګه څوک چې د ډبرو او بتانو عبادت کوي د خپلو پلرونو د تقلید لپاره هېڅ عذر نه لري، هغه باید د حقیقت لټون وکړي او له ځانه وپوښتي: زه څنګه کولی شم د یو داسې بې جانه شي عبادت وکړم چې نه زما اوري او نه ما ګوري او هېڅ ګټه هم راته نشي رسولی؟!

په ورته ډول، عیسوی چې په هغو شیانو باور لري چې له فطرت او عقل سره مخالف دي؛ باید له ځانه وپوښتي چې: الله څنګه کولی شي خپل بې ګناه زوی د خلکو د ګناهونو له امله ووژني؟! دا ظلم دی! همدارنګه انسانان څنګه کولی شي د رب زوی په دار کړي او ویې وژني؟! آیا رب نشي کولی د بشر ګناهونه وبخښي پرته لدې چې دوی ته د خپل زوی د وژلو اجازه ورکړي؟ آیا رب د خپل زوی دفاع نشي کولی؟

نو د عاقل انسان وظیفه ده چې د حق پیروي وکړي او په باطل کې د پلرونو او نیکونو تقلید ونه کړي.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُواْ حَسۡبُنَا مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَهۡتَدُونَ١٠٤﴾ [المائدة: 104]

او كله چې دوی ته وويل شي چې راشئ هغه شي ته چې الله نازل كړی دی او رسول ته (راشئ)، دوی وايي: موږ ته هغه (لار) كافي ده چې په هغې باندې موږ خپل پلرونه موندلي دي، آيا اګر كه د دوی پلرونه داسې وو چې نه پر كوم شي پوهېدل او نه هدايت موندونكي وو[5 :104].

## هغه څوک باید څه وکړي چې غواړي اسلام قبول کړي، خو وېره لري چې خپلوان به يې ورته زيان ورسوي؟

څوک چې غواړي اسلام قبول کړي او د خپل شاوخوا چاپېريال څخه وېره ولري، کولی شي اسلام قبول کړي او خپل اسلام پټ وساتي تر څو چې الله تعالی ورته يوه د خير لار اسانه کړي چې په هغې کې خپلواک شي او خپل اسلام ښکاره کړي.

نو پر تا باندې سمدلاسه اسلام قبلول واجب دی، خو په تا باندې لازم نه دی چې خپل شاوخوا خلکو ته د اسلام راوړلو خبر ورکړې او يا د مسلمانېدو اعلان وکړې، کله چې دا کار تا ته ضرر رسوي.

او پوه شه چې كه مسلمان شوې نو ته به د میلیونونو مسلمانانو ورور شې، او کولی شې په خپل هېواد کې له جومات او يا اسلامي مرکز سره اړيکه ونيسې او له هغوی څخه مشوره او مرسته وغواړې او هغوی پدې کار سره خوشحالیږي.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿... وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ ...٣﴾ [الطلاق: 2-3]

(او هغه څوک چې له الله نه ووېرېږي، (نو) هغه به د ده لپاره د وتلو ځای پيدا کړي) او له يو داسې لورې به روزي ورکوي چې ګومان يې نه کوي.[65 : 2، 3]

## ګرانه لوستونکیه!

آیا د خالق الله رضا کول مهم نه دي -چا چې دربانديږ خپل ټول نعمتونه لورولي، چا چې په داسې حال کې خواړه درکول چې ته د خپلې مور په خېټه کې د جنین په بڼه وې، او هوا يې دررسوي چې اوس يې تنفس کوې- که د خلکو راضي کول مهم دي؟

آیا د دنيا او آخرت بریالیتوب د ژوند د ټولو لذتونو د قربانولو ارزښت نه لري؟ ولې نه، قسم په الله!

خپل ماضي ته اجازه مه ورکوه مخنيوی دې وکړي چې غلطه تګلاره سمه کړې، او سم کارونه وکړې.

نن ورځ ريښتينی مؤمن شه! او شيطان ته اجازه مه ورکوه چې د حق له پيروی څخه دې منع کړي!

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَكُم بُرۡهَٰنٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ نُورٗا مُّبِينٗا ١٧٤ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعۡتَصَمُواْ بِهِۦ فَسَيُدۡخِلُهُمۡ فِي رَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَفَضۡلٖ وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَيۡهِ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ١٧٥﴾ [النساء: 174-175]

اې خلقو! يقينًا تاسو ته د خپل رب له جانبه لوی دليل راغلی دی او موږ تاسو ته واضحه رڼا نازله کړې ده. * نو هر چې هغه کسان دي چې پر الله يې ايمان راوړ او پر (دين د) هغه يې منګولې ښخې کړې، نو خامخا به هغه دوی په خپل رحمت او فضل کې داخلوي او د خپل ځان په طرف به يې په نېغه لار روانوي.[4: 174 ,175].

## آیا ته چمتو یې چې د خپل ژوند ترټولو لویه پرېکړه وکړې؟

که دا هر څه ستا لپاره منطقي وي او په خپل زړه کې دې پر حقیقت اعتراف وکړ؛ نو پر تا لازم دي چې د مسلمانېدو لپاره لومړی ګام پورته کړي. آیا ته غواړې زه درسره مرسته وکړم چې ستا د ژوند غوره پرېکړه وکړې او آیا تاته لارښوونه وکړم چې څنګه مسلمان شې؟

مه پرېږده چې ګناهونه دې په اسلام کې له داخلېدو مخنيوی وکړي، الله تعالی په قرآن کې موږ ته فرمايلي دي چې هغه د انسان ټول ګناهونه ببښي، که چېرته هغه اسلام قبول کړي او خپل خالق ته توبه وباسي، نو طبيعي ده چې له اسلام راوړلو وروسته به هم درڅخه ګناهونه کيږي، ځکه موږ انسانان يو او بې ګناه پرېښتې نه يو، خو موږ ته په کار دي چې له الله تعالی څخه ببښنه وغواړو او هغه ته توبه وباسو، او که الله تعالی ووينې چې ته د حق په منلو کې ګړندی وې او په اسلام کې داخل شوې او د شهادت دوه کلمې دې وويلې، نو هغه به تا سره د نورو ګناهونو په پرېښودلو کې مرسته وکړي، او څوک چې د الله لوري ته روان شي او د حق پيروي وکړي، الله به درته د نورو نيکيو توفيق ورکړي، نو په اسلام کې د داخلېدو په اړه زړه نازړه کيږه مه او سمدلاسه اقدام وکړه.

د دې خبرې ثبوت د الله تعالی دا قول دی چې فرمايي:

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ ...٣٨﴾ [الأنفال: 38]

(ته هغو کسانو ته ووايه چې کفر يې کړی دی، که چېرې دوی منع شي، (نو) دوی ته به د هغو (ګناهونو) ببښنه وشي چې مخکې (ترې) شوي دي).[8: 38].

# څه باید وکړم چې مسلمان شم؟

په اسلام کې داخلېدل آسانه خبره ده او کوم رسم او رواج، رسمي چارو او د چا حضور ته اړتیا نه لري، انسان باید یوازې د شهادت دوه کلمې ووایي، په داسې حال کې چې په معنا یې پوه شي او ایمان پرې ولري، هغه داسې چې ووایي: (أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدًا رسول الله) یعنې زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا ګواهي ورکوم چې محمد د الله رسول دی، که تاسو ته آسانه وي چې په عربي ژبه یې ووایې نو ښه ده او که درته سخته وي نو بسنه کوي چې په خپله ژبه یې ووایې او پدې سره به ته مسلمان شې، بیا نو تاته په کار دي چې دین دې زده کړې، کوم چې په دنیا کې ستا نیکبختي او آخرت کې ستا خلاصون او نجات دی.

د اسلام په اړه د لا زیاتو معلوماتو په اړه درته د دې سایټ د لیدلو سپارښتنه کوم: https://byenah.com/ps/discover-islam

په ............... ژبه د قرآن کریم د معناګانو د ژباړې لینک:
https://quranenc.com/ps/home/redir/?iso_code=ps

او د دې لپاره چې زده کړې چې څنګه اسلام عملي کړې، تاته سپارښتنه کوو چې دا ویب پاڼه وګورې: https://byenah.com/ps/muslims

# شاخص


زه چا پیدا کړی یم؟ او ولې؟هر څه د خالق د وجود څرګندونه کوي............................1
الله سبحانه وتعالی.........................................................................4
د سپېڅلي رب صفتونه .....................................................................5
هغه رب چې عبادت یې کیږي باید د کمال په صفتونو سره یاد شي. .........................6
آیا دا معقوله ده چې خالق دې موږ له وحی پرته پرېږدي؟ ....................................8
قرآن کریم...................................................................................10
ولې ډېر شمېر رسولان؟ ......................................................................11
یو ځوک تر هغه وخته مؤمن کېدلی نه شي تر څو یې په ټولو پیغمبرانو ایمان نه وي راوړی. 12..................................................................................
اسلام څه شی دی؟..........................................................................13
مسلمانان د عیسی علیه السلام په اړه څه عقیده لري؟ ......................................14
زه د مسلمانېدلو لپاره څه ته اړتیا لرم؟......................................................18
اسلام د نېکمرغی لار ده ...................................................................19
اسلام ته په داخلېدو کې څه ګټه کوم؟.......................................................20
که اسلام را نه وړم نو څه به له لاسه ورکړم؟ ...............................................21
پرېکړه مه ځنډوه! ............................................................................22
د هغو کسانو لپاره هېڅ عذر نشته چې حق یې پرېښی او د پلرونو او نیکونو تقلید کوي. .....24
هغه ځوک باید څه وکړي چې غواړي اسلام قبول کړي، خو وېره لري چې خپلوان به یې ورته زیان ورسوي؟ .....................................................................25
ګرانه لوستونکیه!...........................................................................26
آیا ته چمتو یې چې د خپل ژوند ترټولو لویه پرېکړه وکړې؟...................................27
څه باید وکړم چې مسلمان شم؟ .............................................................28
شاخص .....................................................................................30



ننشر
الإسلام
بأكثر من
100
لغة
زه چا پیدا کړی یم؟ او ولې؟
هر څه د خالق د وجود څرګندونه کوي
ps361